دمقالې لیکونکی : الفرید وی مککوی (Alfred W. McCoy).
منبع او خپریدو نیټه: ( کمان ډریم «12-11-2017).
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».
---------------------------------------------------------

# پرتروریزم باندی دجګړی په اړه دواشنګټن دمخدره توکو انتخاب

# washington's drug of choice in the war of terro

ځرنګه دمخدره توکوناکامه جګړه دترومپ افغان
ماجراجویی د ماتی سره مخا مخوی

## (بیا هم ) د ا فغا نستا ن په د ښتونو کي

## into the Afghan Abyss (again)



الفرید وی مککوی لیکی: دلته د طا لبا نو دبریالیتوبونو دپا ره زیا ت دلیلونه موجودی دی یوه فکتور کوم چی دنورو دلایلو ځخه دهغوی په بریالیتوب کی ډیر ستر ونډه لری هغه د کوکنارو کرکیلنه دی (عکاسی دبراون / دامریکی پوځ)

وروسته دنهو (۹) میاشتو بی لاری ( لار ورکونه ) او اړو دوړو اوپه سپینه مانی کي دترومپ دپرله پسی بی شمیر و تیوتی(tweet) لیکونو څخه داسی را څرګند او ښکاره شو چي دامریکي متحده ایالات د جنګ اود جګړی د دوام د پا ره په افغانستان کی پا تی کیږی .او په دی ټینګارکوی چي مونږ په دي جګړه کی بریا لي کیږو،نودهمدی هیلی او هدف په نظرکي نیولوسره دامریکي متحده ایالاتوجمهورریس دونالد ترومپ دافغا نستا ن دروانی شخړی دوړاندي کړل شوي مخکینی پروګرام اودطرحی دله مینځه وړلو دپاره چي د«**اوباما**» لخوا وړاندی شوی وه داګست په میاشت کی یوه اعلامیه نشرته وسپارل اوپه دغه اعلامیه کی تروریستان اوطا لبا نو ته ګواښ ورکړ چي تاسی وروسته له دی هیڅ چیری ځان پټولی نشي اود تاسی پټن ځا یونه د امریکی د متحده ایالاتو د نظا میا نو د سترګو څخه پټ پا تی کیدای نشي ، نو دهمدی اعلا میی د مضمون د تحقق د پا ره دامریکی د متحده ایالاتو ددفاع وزیر **جمیس ماتیس** (James Mattis) اعلام وکړ چي پنتا ګون نور (4000) اضا فی سرتیری دجګړی ددوام دپا ره افغانستان ته لیږی چی په دي صورت سره به دامریکي د متحده ایالاتود سرتیرو ټول شمیر (15000) ته ، به ورسیږی.

لکه همغسی چی داکتوبر په میاشت کی د دغه کوچنی یا لیږه کی (حد اقل) زیاتوالی خبره د (سی آی ای ) له خوا دنیویارک ټایمز خپرونی ته افشا او بربنډ (درز) کیږی نو د نیویارک ټا یمز خبری آژانس دغه را بر بنډ شوی خبره چی د بی پیلوتو الوتکو دیو ناڅا پی بشپړ حملی د ډ یر تجربه لرونکي ایجنسی تیم پواسطه سره دطالبانو دجنګیالیو دپټن ځایونو په نښه کولو اودهغو وژلو ته لیږل شوی دی نشر ته سپا ری او ددغه بی پیلوتوالوتکو پواسطه سره پر طالبانو باندی په بی تفاوتی اوپه پوره بیرحمی سره حملی د (سی آی ای ) دریس مک پمپیو (Mike Pompeo) هغه هیلی را وڅیړل کوم چي په ویتنام کي د (سی آی ای ) تر مشری لاندی د ققنوس (عنقا) دجګړی تر عنوان لاندی غیر قا نونی اواضطراری وژنی تر سره شوی وه په هرصورت د(سی آی ای ) شبهه نظامی افسران داسی راپور راکړل چي په افغانستان کی ځانګړي افغاني تکړه ځواکونه دامریکا یا نوسره په ګډه خپل موخه ضد تروریستی عملیاتونو ته پراخوالی ورکړي دي کوم چي په تیرووختونوکی پرهغوی باندي داسي تورونه لګول شوي وه چي غیرنظامیان ، غیر نظا میان وژني نو په لنډه توګه ویلي شو چي اوس دغه لوبه په افغا نستا ن کی تر سره کیږي .

په افغانستا ن کی وروسته د (۱۶) کا لو جنګ اوجګړی څخه دلته ښکاره سوال دادي چي آیا دغه له سره بیا ددی نوی جګړی او مبا رزی پیل به په ریښتیا نی بڼی سره د بریالیتوب فرصت او چا نس به رامینځته کړي ؟ یا داچي د بری لږ چا نس به ولری ؟ ددي سوال دځواب د پاره یوبل سوال را مینځته کیږی او هغه داچی ولی طالبانو په دی

ورروستيو کلنوکي سره دهغه چي د ا مريکا يا نو له خوا پر هغوی با ندي نظا می ستر عمليا تونه او هوايي يرغلونه اوهم دافغا نستا ن د ملي اردو دمنسو بينو د پوره روزني اود جنګی مهارتونو په لوړيدو سره سره بياهم په افغانستان کی ډير بريا تر لاسه کړي دي ؟ پس له هرڅه نه با يد په ډاګه شي چی دا فغا نستا ن دغه روانه جګړه نه داچي د ا مريکی د متحده ايالاتو د جنګونو په تاريخ کي له ټولو نه يو ډير اوږد جګړه دی کوم چی د(بارک اوباما) دزما مدا ری په وخت يعنی د کا ل (2010 ) او (2011) په مينځ کی دامريکی د متحده ايالاتو دپوځ ډير بی ځاری او په لوړ شمير سره امريکايی سرتيری په دغه هيوادکی ځای پر ځای شوی وه مګربيا هم کوم لاسته راوړنی نه درلود.

**د طا لبا نو په اړه فکر کول** : امريکايانو تر زيات اوږدی مودي پوري دطا لبا نو په اړه داسی اوريدلی وه چی مونږ دهغو په اړه زيات نه پوهيږو او هغه داچي په څه ډول دهغوی غورځنګ په دي ورروستيو کلونو کی په ډير چټکی سره ورروسته د سپټمبر د يولسم نيټی کال (۲۰۰۱) د تروريستی حملی څخه کوم چي د سپينی ما نی واکمن **دبيليو بوش** دهدايت سره سم دامريکی هوايي ځواکونه اود (سی آی ای) پواسطه سره د شما لی ټلوالو اجير کړل شوی جنګ سالاران په ګډه سره پر طا لبا نو باندی ډله ايز يرغل وکړل دافغانستان پلازمينه کابل تر خپل ولکی لاندی رواستل اود طا لبا نو آمارت يی رنګ اورانسکورکړل مګر بياهم طا لبا نو له سره وده وکړل ،يعنی دا نه چي يوائی دهغوی اسلامی جنبش او حکومت دړی وړی شو بلکه دهغو بی شميره جګړه ماران په ځانګړی بنی سره په هوايي ورانونکی حملو سره خپل ژوند دلاسه ورکړل اوداسي په نظر رسيد ل چي هغوی مخکی له دی نه چي سررا پورته کړی ټول له مينځه به تللی وي مګر سره سره له دی بياهم طا لبا نو د پنځو کلونو په موده کی وتوا نيد ل چي (25000) جنګيا لی په افغا نستا ن کي دجګړی د پاره تر (2015) کال پوری ځای پر ځای کړي .دهيواد کليوالی اود اولسوالی د سيمی نيما يی برخی تر خپل تصرف لاندی راوړی، دزياتو اولسواليومرکزونه ونيسی او حتی تردی ځايه پوری چي هغو خپل قونونه دلويو ولايا تو تر دروازو پوری لکه د کند وز په ولايت کی رسولی دی .

لکه همغسی چی دهرغورځنګ په تر خ کی د طا لبا نو دبرياليتوبونو دپاره بی شميره دلايل لکه دکابل درژيم ماتی ، په فساد سره ککړه اداره ، دکليوالو اود اولسواليو دخلکو داسوده حال په مقا بل کی د دولت بی پروايی د خارجی يرغلګرو په مقا بل کی دخلکو د عنعنوی اودوديز مبا رزی څخه ننګه نه کول اود پا کستا ن له طرفه د دولتی ضد قوتونو څخه ملا تړ او هم د پولو څخه هغه غا ړی ته ددوارو هيوادو دپولو په اوږدو کی د جګړه مارو د پاره خوندی او پټن ځايونه ټول هغه د ليلونه دی چی دلته مو له هغو څخه ياده کړ مګر ددغو ياده شوو دليلونه څخه هغه ستردليل چی د طا لبا نو په بريا کی ډ ير ستر ونډه لری هغه دا فغا نستا ن په دننه کی د تريا کو دکرکيليني پراختيا دي .

طا لبی جګړه مارانو لکه د نورو زیا تو شورشی پوځونو اویا لښکرو په څیر له نوی ځلمیا نو څخه جوړه شوی دي چی د دی ځوا نا نو یو زیا ت شمیرد پیسو په بد ل کی حاضر کیږی جګړی ته ځان چمتو کړی اوهغه پیسی چی تر لاسه کوی دخپل کورنی د ژوند د سمبا ل د پا ره په مصرف ورسوي . بی ویلو دی پا تی نشي چی د جګړی په دی (پنځلس) کا لو کی د هر پسرلي په راتګ سره کله چی واوره دا فغا نستا ن دغرونو په لمنو او په سرکی د لمرد ګرمو وړانګو په ځلید و سره ویلي او اوبه کیږی او دغه اوبه د کوکنارپټیو اومزارع ته موخه کوی نو په همدی وخت کی دکوکنارودحاصلاتو در راټولو وخت را نژدی کیږی کوم چی د کوکنارو دراټولو دپاره دکلیو اود با ندو څخه د نادارو اودبی وزلو له کورنیو څخه ځوانا ن د پیسو په بدل کی په مزدوری نیول کیږی نو هغوی ته سلاح ورکوی اوهم دهرمیا شتی په اخر کی هغوی ته (300 ) نقده دالر هم ورکوی کوم چی هغوی دومره پیسی په بزګری اویا په نورو کارونو کی نشی تر لاسه کولای.
نو په همدی اړه د (25000) طالبی جګړه مارانو اویا جنګیا لیو ته دهرکال دجګړی په موسمی او فصلی وختونو کی چی باید هغوی ته معا ش ورکړل شی نو په مجموع کی (90) میلیونه دالروته ضرورت لیدل کیږ[ دیومیاشتی ( 25000x300=7500000 ) دهغوی دیو کال معا ش (7500000x12=90000000) ] یا په تخمینی بڼی سره ددی جګړی دځرخ دځرخولو دپاره هرکال یو ملیارد دالرو ته ضرورت دي کوم چی په دی پنځلس کالو کی ددی جګړی د سرته رسولو او د دوام د پاره تر اوسه پوری (پنځلس ملیا رده دالر) په مصرف رسید لی دي .
پس دلته یو سوال پیداکیږی چی طا لبا نو دغه مقدار پیسی له هغه نادار اووچي اوبی اوبو ځمکی یا دښتونو څخه له کومه کوی اویا څنګه تر لاسه کوي ؟ چی ددی جګړی ارتټ وځرخوی یعنی تقریباً په کال کي (یوملیارد دالر).......
اما د امریکی د متحده ایالاتو د نظامی قوماندان اومشر جنرال **جان نیکلسون** ( J. Nicholson) له قوله چی وایي : یواځی دهلمند په ولایت کي دکوکنارو دحاصلاتو دقابل ملاحظی وړکلنی تولید اوبیا دهغه اړول په هیروینوباندي اوبیا دنړی په مارکیټونو کی دهغه دخرڅلاو څخه لاسته راغلی پیسی د طا لبا نو د کلنی لګښتونو (60) سلنه برابروی لکه همغسی چی د ا فغا نستا ن جمهور ریس اشرف «غنی» د نړیوا ل بانک مخکینی مامور په دی پوره موافق دي چی بی دمخدره موادو دراکړی اوورکړی څخه نا شونه دی چی دا جګړه مخکی ویوړل شي. **نو د دی تولو پورتنیو یا دونو څخه په داګه ویلي شو چي هیروین د افغا نستا ن د جګړی دارتټ د ځرخولو دپا ره یو ډیر مهم اواسا سی موتور اویواځنی عا مل دي.**
دطا لبانو د شمیر زیا توالی په عین وخت کی د بی ځنډ اود تریاکو د حاصلاتو په وده اودهغه د تولید په زیا توالی پوری نه شلید ونکی ارتباط لری اوهغه داچي داکتوبر په

*میا شت، کال ( 2001 ) کی کله چی امریکایانو پر افغانستان باند یرغل راوړل هغه وخت د تریاکو حاصلات په کا ل کی ( 185) ټن وه اما وروسته له هغه مثلاً دبیلګي په بڼه په کال ( 2008) د تریاکو کلنی محصولات ( 8200) ټنو ته لوړ شو کوم چی دغه اندازه محصولات په بی سا ری بڼی سره دهیواد دداخلی ناخالص تولید ( 53) سلنه اودهیروین دغیر قانونی عرضه کولو اندازه ( 93) سلنه په نړی کي جوړوی کوم چي همغه کا ل کی دملګرو ملتونو سازمان څرګند کړ چی طا لبا نو د خپل جنګیا لیودپاره د مخدره توکو له اقتصادی زیرمو څخه د تسلیحا تو ، تداروکاتو او ملیشوته دمعاشونو دورکولو پیسي ترلاسه کوی ،همدارنګه دامریکي دمتحده ایالاتو دسولی د موسسی دمطا لعا توڅخه چي په کال ( 2009) تر سره کړ داسي په ډاګه شوی چي طا لبا نو په اوسنی وخت کی دهیروینو ( 50) د ستګاه «لابراتوارونه» دخپلو تر ولیکي ( 98) سلنه دتریاکو د کرکیلنی په سیمو کي لری کوم چي ددی سیموڅخه ( 425) ملیون دالر دتریاکو دترافیک اودما لیی دراتیولولو څخه تر لاسه کوي .*

*د «اوباما» دزمامداری په وخت کی یعنی په کال ( 2010) کی وروسته له څلورو کا لو اند یښنو څخه دی ستراتیژی ته ورسید چي باید دامریکی نظا می ځواکونه له افغا نستا ن څخه راوبا سي له بلی خوا څخه کارپوها نو پخپلو څیړونو کی دی پا یلی ته ورسید چي تریاک (خشخاش) دطا لبانود ژوندی پا تی کید واویا دهغو د فعا لیتونو د سرته رسولو د پاره په یوه منل شوی مرکزی عامل باندی اغوښتی دي ، دبلی خوا څخه د تریا کو دبیخی اوپه ریشوی بڼی سره دهغه له مینځه وړل کوم چي دامریکی دیولړ پروګرامونو پواسطه سره دواشنګټن په ملاتړ سره څه ناڅه اقدامات تر سره شوی یا تر سره کیږی یو لړ وچ تصورات دی لکه چي د ا فغا نستا ن دپاره د ښتا ګون له خوا د بیا له سره جوړونی د پلټونکي **جان سوپکو**(John Sopko) په کال ( 2014) کی دی نتیجی ته ورسید او وایي چي مونږ په هر د تصور وړ متریک ساحه کی د کوکنار د کر کیلنی د تولید او دهغه د کرلو د مینځه وړلو په برخه کی د پوره ما تي سره مخامخ یو! اوبل مهم مطلب داچي دطا لبا نو له خوا دما لیا تو دراتیولولو انداز ه لا پیسي زیا ته شوی دی او د بلی خوا په ا فغا نستا ن کی بی شمیره خلک په بی ساری بڼی سره په تریاکو باندی معتاد شوی دي.*

*په کال ( 2013) په افغا نستا ن کی دتریاکو ریکورد په ( 209000) هکتاره ځمکه کي ډیر او چټ وه چي دهغه مجموعی تولیدی حاصلات ( 5500) ټن ته لوړ شو وه کوم چی ددغه مقدار خشخاش دخرڅلاو څخه په غیر قانوني بڼی سره دری ملیارد دالر ترلاسه کړل شو چی ددی مبلغ څخه یواځی کوم چي طا لبا نو له هغه څخه مالیی را ټولوی یا راټول کړ یواځی ( 320) میلونه دالر وه یعنی دغه پیسي دطالبانو دغورځنګ نیمایی برخی مصارفات دهمدی عاید څخه پوره کیږی - اود همدی موضوع په نظر کي نیولو سره دامریکی دمتحده ایالاتو دغه مبهم اوناڅرګند څیرنه په کلکه سره تاییدوی چي دغه*

اضافی عایدات د(جګړی دپیشګویی ) په بنه کوم چی د مخدره توکو د تجارت په هر سطح کی ګټه تر لاسه کوی دملاحظی وړ مبلغ دی .

## د مخد ره توکو په وړاندي دهڅو ناکا می :

سپینه ما نی د کا ل(2017) په پای کی ددی چمتوالي نیسي چي افغانان دنورو څلورو کلنو دپاره بی له دی چی دطالبانو په هڅواومبارزه کي وشی کړی چي څه تغیر راوړي اویا هغوی کمزوره کړي اوس ګړنګ ته ورتیل وهی . آ یا اوس واشنګټن د طا لبا نو د ناکا می وړاند وینه کوی ؟

**جان سوپکو** (John Sopko ) ددی پوښتنی دځواب د پا ره ځا ن چمتو کړي چي هغه د ا مریکی د کا نګرس د پاره د خپل د ما موریت د پنځو کا لو د تر لاسه کړی تجربو په رڼا کي د خپل ماموریت د ما تي تول ډولونه بیا ن کړی اودکانګرس د ګډون کونکو پام خپل اظهارا تو ته راواړوی . هغه په یوه بیا له سره کتنه کي د واشنګټن د (پنځلس) کا لود نا کا مي خبره کوم چي په افغانستان کي دتریاکو د تولیداتو په را ټیټولو کی پاتي راغلی او طا لبا نو ته ونشو کړی چي ما تی ورکړي روښا نه یادونه وکړ او زیا ته یی کړ : چي دطرح کړ شوی (۱۵۰) مخی مسوده چی دمخدره توکو په وړاندي دمبارزی دپاره چمتوشوي وه په ا فغا نستا ن کي د کال(2002) څخه تر(2016) پوری د نیشه ای توکو دپا لیسی ناورین ښیی چي یواځی دتریاکودعواید ود ډیروالي له امله په تضمیني بڼی سره طا لبا نوته داچانس ورپه برخه کړي چی ددغه روانی جګړی ارتښ وڅرخوی. کله چي هغه یعنی (سوپکو) دملګرو ملتونو دتاریاکو د کلنی سروی راپور ولوستل نو بیا **هغه** داسي شواهد وړاندی کړ چی د **دونالد ترومپ** دوروستي پریکړي په رڼا کي د امریکی د نا امیدی او د ما تی خبره دوه چنده شوی دي .

د(پنځلس) کا لو په اوږدو کی د امریکی د متحده ایالاتو، د بریتا نیا او د ملګرو ملتونو د سا زما ن تول هڅی اواند د مخدره توکو په وړاندی مبا رزه کی د دی سبب شو یا داسی یو شرایط رامساعده کړچي په افغانستان کی دمخدره موادو تولید ات لاپسی زیا ته شي . «سوپکو» وایی : چي تریاک په افغانستان کي دنقدو پیسو دترلاسه کولو دپاره یو ډیر قیمتی او با ارزش محصول پا تي شوی دي . هغه هم د سرحدی قیمتونو (یعنی دهیوادپه پولوکي د تریاک دراکړی ورکړی په معا مله کی دهغه قیمت ) د تاکلو پربنیا د چي د همدی قیمت په نظرکی نیولو سره د هغه د یوکا ل عا ید (دری) ملیا رد ډالرو ته رسیږي -هغه دخپلو خبرو په دوام کي داسی زیا توی اوهغه داچي د تریاکو د راکړی او ورکړي په کسب اوکا ر کي تقریباً هرکا ل تر (411000) کسا نو ته شغلی دندی میسر کیږی ، کوم چي دافغانستان امنیتی مسولین او ددفاع وزارت نشی کړلی چی په دی شمیر ځوانان هرکال را جذب کړی اوخپل پوځ تقویه کړي – د بلی خوا څخه د امریکی متحده ایالات چي د تریا کو دکرکیلنی دمینځه وړلو اویا دهغه د مخنیوی د پا ره دیو پروګرام په

تحقق سره ( 9) مليا رد ډالرپا ڼګونه کړی وه او امریکی د ا فغا نستا ن جمهور ریس ته وخت ور ټاکلی وه چې د ترياکو کر کيلنه را ټيټه کړی نو د ( سوپکو) له قوله چې وايي « هغه وخت چې امریکا په کا ل «2001» پر افغا نستا ن با ندي يرغل راوړ د ترياکو د کرکيلنی د پا ره يواځي(8000) هکتاره ځمکه ځا نګړی شوی وه حال داچې اوس يعنی په کا ل (2016) کي (200000) هکتاره ځمکه ځانګړی شوی او هغه په دي معنی چې نه داچې د تريا کو محصولات را ټيټه شوی وی بلکه د هغه محصولا ت څو برابره «دوه دری چنده » شوی او په همدی حا ل کی داسی اټکل کيږی چې دا فغا نی ټولني (۱۱) سلنه خلک په تريا کو با ندي معتاد شوي دی چې دا رقم دبين المللی ارقامو په پرتله ډير لوړ يو رقم دي .

په کا ل (2016) کي دملګرو ملتونو دسازمان له خوا په افغانستان کي دترياکو په يو طرح کړ شوی فصلی سروی کي په سل ګونو افغانی خبرنګارانو هم دونډی په اخيستلو په هغه منطقو کی چې ترياک ډير کرل کيږي دترياکو په کرل شوی فصلونو کی پلي شو کوم چې ددغه سروی ټول انځورونه ديو ماهواره «سپوږمکي» پواسطه سره ثبت کيډ له نو دهمدی کال په دغه سروي کی وښودل شو چې دترياکو مجموعی محصولات (5600) ټن وه چې بيا هم د ترياکو توليد ا ت لوړ يعنی «43» سلنه وه اود بلی خوا څخه په همدی ورته وخت کي دکوکنا رو د له مينځه وړلو هڅی (91) سلنه را ټيټه وه اودا په دی مفهوم چې يواځی (355) هکتاره د ترياکو کرل شوی ځمکی يا د ترياکو فصل له مينځه وړل شوی وه کوم چې په هغه ځمکو کي چې په غير قانونی بڼی سره ترياک کرل کيده دهغه له مينځه وړل له (2) سلنه څخه لا هم ټيټ وه .

پر افغانستان باند ي دامريکي د متحده ايالاتو د کا ل(2001) د تجا وز اود يرغل د پيل څخه ، واشنګټن اودهغي د مخد ره توکو ډير نژدی متحد ين د مخد ره توکو پر ضد خپل هر ډول مبا رزه ترممکنه حد ه پوری په ازما يښت کی واچول کوم چې په ټولو برخو کي بی له کوم ځا نګړتيا د پوره ما تي اود نا کا مي سره مخا مخ شو. او دا مريکي له خوا دځا نګړی کړ ی شوی بودجي زيا ته برخه په افغا نستا ن کی د ترياکو د مزارع يا دکوکنا رو د کشت دمينځه وړلو د پا ره چې تقريباً (3،4) مليارد دالر کيږی ځانګړي کړی وه ،چې دهمدی ځا نګړی کړي شوی بودجي زيا ته برخه د تجربوی پروګرامونو د پکاروړلو يا دسرته رسولو په منظور په کار اچولي وه چې يوه يی هم ښکا ره لاسته راوړنه نه درلود.

هماغسی چي دامريکي دمتحده ايالاتو دمخدره توکو په وړاندي دهغه پاليسي دناکامی سره مخامخ شوی دي نو د (سوپکو ) له نظره دملګرو ملتونو د سازمان هڅی اوائد هم په دغه برخه کي غير موثر اويا بی تاثير پاتی شوی دي.

پر افغانستان با ندي د امر يکي د (2001) کال ديرغل په لمړی لسيزو کي ، واشنګټن

د ضد تروريستی عمليا تونو په پلی کولو سره يولړ هڅی اواند تر سره کړ او په همدي منظور سره د مخدره توکو جنګ دخپل نورو انډيالانو ته ورپه غاړه کړ يعنی د تريا کو د مينځه وړلو دنده بريتانيا ته وسپارل اودافغانستان دپوليسو هڅی اوفعاليتونه دترياکو دمخنيوی دپاره جرمنيا ن وهڅول چي په دی برخه کی دافغا نستا ن پوليسو ته ځا نګړی زده کړه ورکړی يعنی افغا نـي پوليس په نوی مهارتونو سره وروزي . نوپه دغه بحرانی پړاو کي د ملګرو ملتونود مخدره توکو اودجرمونو اداره( the united nation office (of drugs and crime"UNVODC") يو ما نور ته زړه ښه وکړ يا د يومانور دسرته رسولو دپا ره ځان چمتو کړ ، چي که وشی کړي خپل رهبری له هغه را پيداشوی خلا څخه وژغوری يا هغه خلا ډ که کړي .

نو هغه څه چي وروسته وليدل شو هغه په اصطلاح سره دهوښيا ری څخه ډ که ديو سيا سی شطرنج لوبه وه ،چي (سوپکو) ديو راپورپه حواله داسی څرګند کړ چي ملګری ملتونه داسی استدلال کوی چي په افغانستان کی دکوکنارو کشت اومزارع با يد تر (25) سلنه پوری د له مينځه ويوړل شي ، چي په دی صورت سره با يد هرکا ل هر (زر ) تنه افغانی بزګران دترياکو دکرهنی څخه لاس پر سر شی يعنی چي زر تنه افغا نـي بزګرانو نور دترياک کرلو ته زړه ښه ونکړي – دغه دترياکو دمينځه وړلو پروګرام دفاع کونکي **انتونيو ماريا کوستا** (Antonio Maria Costa) ايتا ليا يی اقتصاد پوه په شوروی کی روزل شوی متخصص کوم چي اوس په ملګروملتونو کي د (UNODC) ريس او مشر دي (سوپکو) د هغه اظهارات داسی را څرګند وي: [ دلته د ترياکو دکرلو اود فقر تر مينځ هيح يو ځا نګړي اړيکي وجود نه لری ] او **انتو ماريا کوستا** په **ويا نا** کي خپل مدرنيستي ستاد يا مرکز ته داسی تعهد وسپارل چي هغه د پنځو کالو په موده کي به تر (70) سلنه د ترياکو کرکيلنه به په افغانستان کی به را ټيټه کړی اود (لسو ) کا لو په موده کي به د تريا کو کرل بلکل به منع کړی د (خندا) وړ يوه ادعا.

د (2002) کا ل په اوايلو کي د واشنګتن ، افغا ن د ماجراجويی په لمړي پړاو کي د ا مريکی د متحده ايالاتو ځواکونه د (سی آی ای) سا زمان او په افغا نستا ن کي د ا مريکی ترحما يی لاندی جمهور ريس حا مد «کرزی» د ترياکو ستو نزی ته په نه پام لرنو اويا دهغه څخه درازيږونکي ستونزی په نه پوهيدو سره بلکل بی تفاوته پا تي شول او دهغه سره مل دافغانستان پر کشالی باندی نور لوبی کونکی لو بعاړي د ډ ير کم توان او د قد رت په درلودلو سره په کا بل کي د ا مريکي سفا رت نه نيولي بيا د ا مريکي دمخدره توکو سره د مبارزی کولو آژانس ، نړيوال بانک ، اروپايی کميسيون ټول له يوسره د نورو سره يوځای پخپل ورځني دند و کي خپل پام اود مبارزی موخه ضد انفجاری پيښو ته اړولی وه اودمخدره توکو دمينځه وړلو دپاره کومه ځانګړي بودجه ځانګړی کړي نه وه دهغوی ټول نوښتونه په منظم توګه سره بی دکوم تحليل او تجزيی

څخه د تیر اویا د مخکینی زوږ سیاست خواته اړول شوی وه اوهغه په اړین فکر کول .
لکه همغسی چي (سوپکو) دی موضوع ته اشاره کوی : اوهغه داچي د مخد ره موادو په وړاندي ممنوعه هڅی اواند په اساسي بڼی سره دتریاکوپه تجارت کي د تغیر اود تحول سره موخه شوي دی او هغه داچي په کال (2017) کي د تریاکوکرهڼه اودهغه محصولات په افغانستان کی خپل رکورد ( بی ساریتوب) تینګ کړ ، کوم چي دهمدی اصل له مخي د طا لبا نو دما لیی د تولو لود پیسو کچه د نوروکلنو په پرتله څوبرابره زیا ته شوی دي .
**د نظا می د یو لنډ مها لی د حل لاره** : د(سوپکو ) له نظره ددی سیا سی ما تی دجبران اویا دبریالیتوب د لاسته راړلو د پا ره یواځی یو پروګرام دمخدره توکو دتولید په کمید و باندی د پام وړتاثیرلرلی شی هغه دادی چي دهیواد په سهیلي منطقوکی چیری چي هلته د تریاکو دکرلو کلیدی او اصلی سیمی دی چي با ید دامریکی د نظا میا نو اود افغا نـي روزل شوی قوتونو تر ولیکی لاندی راوړل شي اودهغی سیمی دسړکونو په هره څلور لاری کي د پلټني (checkpoint) پوستی ځا ی پر ځای شي . (سوپکو) داسي راپور راکوي چی د ا مریکي اودا فغا نـي ځواکونو د پلټنی د پوستو دځای پرځای کولو څخه مخکي په (مرجاه) یعنی دهلمند دولایت دکوکنارو دمزاراع اود کشت په مرکزی منطقه کي (60) سلنه ځمکي دکوکنا رو دکرلو دپاره ځانګړی کیدل اما وروسته له هغه ګړ عملیات څخه چي په هغه عملیا ت کی دامریکی (15000) سمندری تیوپک لرونکو او د افغا نستا ن له لوري د امنیت ملی ځواکونه سره یوځای دفبروری میا شتي کال (2010) کی تر سره کړل هغه دتریاکو دپاره تول ځانګړی شوی خمکي تر خپل ولکي لاندی راوستل کوم چي هلته د تریا کو د کرلو اندازه تر (پنځه ) سلنه ته ورسید. نو د هغه کا ل تر پای پوری کوم چی هلته د امریکی د متحده ایالاتو د سمند ری قول اردو (20000) سرتیری په (50) مستحکموقرارګاه کی چی د (لس) زره بریتانیاوی سرتیری پواسطه سره ملا تړ کید ل په مو قتي بڼی سره د دغي منطقي څخه طا لبا ن وشړل او هغه مقدار تریا ک کوم چي هغوی هلته زیرمه کړی وه هغه یي تر خپل څارنـي او پلټنی لاندی ونیول ،سربیره پر هغه دغه قوتونه کوم چي هلته ځای پر ځای شوی وه نو سمدلاسه دهغه ځای بزګرانو یی وهڅول چی پخپلو ځمکو کي بی له تریاکه نور زراعتی کرهني وکړی نو دهغوی د تشویقولو د پاره هغوی ته څه نقدی پیسي ، زراعتي وسا یل ، واټر پمپونه او ځنی نور آسا نتیا وی برابر کړ چي د همدي برخورد په نتیجه کي تر یو(زر) محلی بزګرانوخپل نومونه ثبت اوسجل کړ سره دهغه چي طالبانو هغوی دشب نامی په خپرولو سره ګواښول اویا بزګرانو ته اخطارونه ورکول ا ما بزګرانو د تریاک څخه پرته دنورو عا دی کرهنو وعده ورکړ چی نور به هغوی تریا ک نه کری .
مګر بیا هم حالات چندان تیکا و نه درلود اویا داچي پا یداره نه وه ، اوهغه داچي څلور کاله وروسته یعنی په کا ل (2014) کي کله چي امریکایي نظامی قوتونه دهیواد

په سطح کي د نا کا مي سره مخا مخ شو نو **جنرال دانیل یو** (General Daniel Yoo)
په هلمند ولایت کي دخپل سمندری قول اردو سرتیرو په مقابل کی ودرید اوهغوی ته اعلام وکړچي تاسی به ډیر ز ر خپل کورونو ته ستا نه کیږی اودهلمند دولایت ټول امنیتی چاری زمونږ متحد افغا نی امنیتی ځواکونو ته سپارل کیږی . او زه ډیر خوشبین یم چي زمونږ دغه افغانی متحد ین به ددی ستری دندی له عهدی څخه به ښه راوتلی اوسی.
دیو کال له تیریدو څخه وروسته طالبانو له هر وخت نه مخکی په ډ یر چټکي سره قوی اوغښتلی شو اودیوی ستر یرغل په ورلو سره دهلمند په ولایت کي دتریاکو دکرهنی خمکي مرکز ته ځان ورسول او هغه سیمی یی تر خپل ولکي لاندي راوستل ، اولکه همغسی چي نیویارک تایمز په دی برخه کی وایي **« د تریاکو ګټور تجا رت الزاماً د شورشیا نو د ا قتصا دی بنیه اود ستنو د تینګید و د پا ره دی »** یا په بل عبارت د تریا کوګټورتجا رت د شورشیا نواقتصادی زیربنا جوړوی . په هرصورت د(2015) کال د دسمبر تر میاشتي پوری دهلمند په ولایت کي دچیک پاینټ (دپلټني اود څارنی ) ځای پرځای شوی پوستی وتوانیدل چي (مرجاه) پخپل تصرف کي وسا تي نوکه چیری دامریکی د سمندری قول اردو سرتیری اوهوایی قوتونه د هلمند په ولایت کي دافغان دامنیتی قوتونو (پوځ – پولیس او امنیت ) ضعیف او کمزوری مورال یا دهغوی جنګی روحیه یی تینګ کړی نه وایی نوبی له کوم شکه هغه ولایت دلاسه تلل.
دهلمند دولایت په شمال یعنی دکوکنارو دکرهني په حاصلحیزه سیمه دهلمند دسیند پر غاړه شورشیانو دسنګین په اولسوالی کی زیات ساحه کوم چي ددولت دقوتونو تر ولکی لاندی وه هغه سیمی یی بیرته ونیول یعنی هغه ساحی کوم چي دولتی قوتونه د جنګی مهماتو اودخواړه په نه درلودلو او ددولتی مسولینو دبډی اورشوت اخیستو له امله ونشو کړلی چي په وړی نس سره وجنګیږی نو دهمدی پورتنی عواملو په نظر کي نیولو سره مجبورشول چي عقب نشینی وکړی اوترخپل لاس لاندی ساحي طا لبا نوته خوشی کړی .
دبلی خوا څخه په کال (2016) کی «بارک اوباما» مجبورشو چي په معکوس بنی سره له دی نه چي خپل سرتیری د مخکینی وعدی سره سم راکمه کړی نو په سلونو نوی تازه دم امریکایی سرتیری دنړی دغه دتریاکوحاصلحیزه منطقی ته ولیږل چی دطا لبا نو ا قتصادی ستنی له سره ونړوی .
اما له بده مرغه سره دامریکی دمتحده ایالاتو دهوایی قوتونو اود (700) ځانګړی پلی امریکایی سرتیری په موجودیت سره سره دفبروری اومارچ په میاشتو کال (2016) کي ددولتی مسولینو اودچارواکو دبډی اودفساد له امله **دموسی کلا** اود **خا نشین** دلسو نه تر (څوارلس) سیمی له سره د طا لبا نو تر کنترول لاندی پریوتل اوپه هغه سیموکی دطالبانو دیرغل په پا یله کي تر(۳۰۰۰) ا فغا نی سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړل اوهغه نور افغانی سرتیری کوم چی د هلمند په مرکز او ځنی نور و برخوکی پا تي وه دهغوروحیه

اوموراال ډیر ښکته او ټول د ښو دګوتوپر څوکو با ندی ولاړ وه او هر شیبه غوښتل چي له هغه سیمو څخه وتښتي ، نو په دي بڼی سره بیا دسره د تریاک دکرهني حاصلخیزه ځمکي بیرته دطالبانو په لاس ولویدل چي هغوی بیا له سره دکوکنار دحاصلاتو په راټولو سره بخت شو ، ترلاسه شوی تریاک یی بیا په هیروین با ندی واړول اویا یی اړوی کوم چي دهغه دخرڅلاو څخه خپل جنګي مصارفات ترلاسه کړي. نو دهمدی جګړی په نیمیا یي کي دهلمند بزګران تقریباً تر (80000) هکتاره ځمکه په کال (2016) کی چی تقریباً دهیواد د تریا کودتولید اتو(40) سلنه جوړوی د تریاک د کرلو د پاره ځا نګړی کړل .

**مخکی تللی میتودولوژی** : نه یواځی دا چي د مخدره توکو دغه له ستونزه ډک دراکړی ورکړی جګړه کي د تریاکو د ترافیک دخنډ سره موخه کړ یا د تریا کو د نقل اود ا نتقا ل جریان مختل کړ بلکه دهغه سیمی ځای خلک یی هم دی ته اړ کړل چي دولت با ید په پوره نیازمندي سره دلته دټیکاو د پاره لاس بری پیدا کړي ، اما په عین وخت کي له بد و نه لا پسی بد تر په پای کي د تریاکو د غیر قانونی تولیدا تو دحجم ډزیاتوالی د پاره داسی زمینه او شرایط په سیمه کي برا بر شو کوم چی د واشنګټن د مخدره موادو په نړیوال جګړه کي په پرله پسی بڼی سره داسی نتیجي ترلاسه کړی نه وه لکه چي ما مخکی هغه یو ځلی د (محرک ممنوعه ) په نوم سره یادولی وه .

د(سوپکو) ټیم یا ګروپ دسپوږمکي (ماهواره) دپکار اچولو سره پیچیلی انځورونه تر لاسه کړل دبیلګي په بڼه : ځنی سخت ا ونه سره تړلی سیمی (یوله بل نه بیل سیمی) په دي انځورونو کي وموندل شو کوم چي په دي سیمو کي پر هغه منطقه کي چي دواشنګټن اودهغه د متحد ینوله خوامرستي ترسره کید ل او هغه سیمی چي هلته دتریاکو دریښی د مینځه وړلو پروګرام مخکی وړل کید ل بلکل له مینځه وړل شوی وه او نه په سترګو کیدل .

دبیلګي په بڼه دننګرهار اودهلمند په ستراتیژیکه ولایاتو کي ، دسپوږمکي (ماهواره) آنځورونه په ښکاره بڼی سره وښودل چي د مخدره توکو هغه مختلفی پروژی کوم چي دتریاکو دله مینځه وړلو اد هغه دریښی دکاږلو چا ری تر سره کول او په هغه منطقو کي دخلکو ژوند اومعشیت د تریا کو دراکړی اوورکړي پوری تړل شوی وه بیخی له مینځه تللی وه .په هرصورت پراخي توسعوی مرستي په هغه سیمو کي چي هلته کوکنار کرل کیدل اودلو ښا رونو څنډ و ته نژدی وه په هغو ساحو کی هم د کوکنا ر کرل مروج شو اوداځکه چي د هغه سیمی خلک ددلت څخه خوا بدی شو اوپر دولت باندی نیوکي کولی چي دولت تر اوږو پوری په فسا دکي ډوب دی او داولس دپاره کوم دسترګو حال لیدلی مرستی نه تر سره کوی نو دهمدی اصل په نظر کي نیولو سره خلک ځا ن طا لبا نو ته نژدی کړ کوم چي اوس د هغه ځای خلک د طا لبا نو له خوا په کار اچول

کیږی یعنی دا طا لبا ن دی چي هغوی دخپل اهدافو د پا ره ا ستخد اموی .
د(سوپکو ) له نظره حتي دکوکنارو دمخنیوی پروګرامونو د آزاد پرمختیا يي بد یلونو (التزناتیف) په نظر کي نیولو سره سره بیاهم له مختلفوحیرانونکی لارو څخه دتریاکو تولید راهڅول دی یا په بل عبارت هغه ټول برنامی له یو سره دتریاکو دتولید دپاره په اصطلاح سره تحریک کونکی اوحیرانونکی لاری او وسا یل دی . د بیلګی په بڼه :
دامریکي دمتحده ایالاتو دپرمختیایی نړیوا ل آژانس(USAID) له خوا(36) میلیون دالر دغذایی زون د پروژی (food zone project) داوبو لګلو د پا ره په مصرف ورسید چي د هغه موخه اوهد ف یي دقندهار ولایت په سهیلي ساحه کي دقانونی کرکیلینی اود نورمال زراعتی خوارو باردودی اود رواجولو په منظوروه. حال داچي دغه عام المنفعه مهم زیربنایی پروژه له بده مرغه په واقیعت کي دکوکنارودکشت دکچي دلوړیدو موجب وګرځید اوهمدا شا ن په ورته بڼی سره دغه د اوبو لګولو پروژي د ننګرهار ، بد خشا ن اود کنړ په ولایت کی په همدی سرنوشت با ندی اخته شول.
د کندهار په ګا وندیتوب یعنی دهلمند په ولایت کي یوه بله د خوړو ژون پروژه( FZP) چي په ابتدا کی دتریاکو تولیداودهغه حاصلات دهمدی پروژی په کاراچولوسره تر (60) سلنه پوری راټیټه کړ.اما بریتانیاوی زراعت پوه **دیوید منسفیلد** (David Mansfield) په دی برخه کی داسی یو راپور وړاندي کړ: چي دپسرلی په موسم کال(2016) کی ددی پروژی په (40) سلنه ځمکه کي کوکنار کرل شوی وه چي د همدی د لیل پر بنیا د هغه کال دکوکنا رو د حاصلاتو اندازه لوړ شوی وه اوهغه داچي طالبان دهمدی مقصد دترسره کولو دپاره ځان چمتو کړی وه چي دهغه په نتیجه کي دهغه سیمي ځایی خلکو ته دا مفکوره راپیداشو چي طا لبا ن هغو ته د دولت په پرتله ډیر ښه دي اوداځکه چي طا لبا نو دهغو د تریاکو دراکړی ورکړی اودهغه د خرڅلاو اود ګتی د تر لاسه کولو په اړه کوم خنډونه نه زیږوی بلکه طا لبا نو له هغوڅخه یواځی ما لیه را ټولوي .نو دهمدی توضیحاتو په لړ کي **دیوید منسفیلد** داسی تجربه تر لاسه کوي او هغه داچي دټولو کلونو په اوږدو کي د تریاکو پر ضد مبارزه کي دولت ته هیڅ هیله او امید واری پاتي نه وه چي د هلمند ولایت په مرکز کي هغه حاصلخیزه ځمکي تر خپل کنترول لاندي راولي .
دامریکی د متحده ایالاتو د پرمختیا یی نړیوال آژانس (USAID) پروګرام کوم چي دغنمو د تولید اویا دهغه د حاصلاتو د کچي پر لوړیدو با ندي تاکید کول کوم چي په ورته بڼی سره تاثیر ګذار هم وه یعنی یو بی تاثیره پروګرام هم نه وه لاکن ګټه ونکړ.
**(سوپکو)** لیکي :د کرهنی د تکنا لوژی داوچت کړنی اود رغنده فعا لیتونو په نظرکي نیولو سره دا فغا ني بزګرانو کورني وشو کړلي چي خپل د غنمو کرل شوی ځمکي اوپټیو د څښاک د یو اندازه اوبو سره خړوبه کړی اود څښاک داوبو نور زیا ت پا تي برخه با ندي خپل دکوکنا رو فصلونه خړوبه کړی .

**نا څرګند راتلونکی:** د**(سوپکو)** دتایید او تاکید شوی بدبینی به نظرکی نیولو سره **موجیب ماشال** (Mujib Mashal) دنیویارک تایمز له خوا دیو راپور په ترڅ کي ښیی چي دافغانستان د مخدره توکو د تولید ناوړی اوغمیزه حا لت کوم چی دواشنګټن د ناکا م سیا ست یوه برخه جوړوی یعنی داسی شرایط یی را مساعد کړي چي د تریا کو تولید له سره بیا رونق پیداکړي اوطا لبا نو په دي تازه وختونو کي د تریاکو دکرهنی دودي اودهغه دپراخید و له امله کوم چي د هغه د تولیداتو کچه یي ډیر لوړ شوي دی ، دغه حاصلات د ا فغا نستا ن په د ننه کي پخپلو(500) دتریاکوپه تصفیه خا نواو لابراتوارونو کي په هیروین سره اړوی اوبیا دغه تر لاسه شوی هیروین د نړي په ما رکیټونو کي د خرڅلا دپا ره عرضه کوی کوم چي تقریباً (60) ملیارده ډالر نقده پیسی ترلاسه کوي . چي داپخپله دنړی په سطح کي یوډیر لوړ اووچت رقم دي .

د تریاکو دمینځه وړلواودهغه دریشه کن سازی دکلی طرحي څخه وتلی دملی ممنوعیت واحد (یونیټ ) اوهغه افغا نا ن کوم چي د تریاکو د مینځه دپاره دامریکایانو دځا نګړی قوتونو په واسطه سره په منظمه توګه روزل شوی دي کم اویا زیات له هغه څه نه چي دهغه انتظاروړل کید ل هغه د مخدره موادو د ترافیک د کچي دراټیټولو هیله اوهد ف وه چي با ید تر سره شوی وای. حال داچي دامریکیا نو له خوا دطا لبا نو دهیروینو د تصفیه خا نو دورانولو په مقصد دهلیکوپټرونو حملی د طا لبا نو له طرفه شنډ کیږی نو په دی مورد کي (ما شا ل) په دی وروستیو وختونوکي داسی څرګند کړ چي د لته زمونږ دهلیکوپټرونو دشپی له طرفه د عملیاتونو خبری یا اطلاعات د ښمنا نو(طا لبا نو ) ته وړل کیږی ویا افشا کیږی کوم چي زمونږ عملیا تونه هم څه لاسته راوړنی نه لری یعنی تول بی فایده دي. دبلی خوا څخه دامریکی د متحده ایالاتو په افغا نستا ن کي میشته قوما ندانا نو او مشرانو داسی څرګندونه کوي : اوس د تریا کو د تولیداتو دبیا ښه رونق میند لو له وجهی د طا لبا نو لوړپوړی مقا مات ډ یر شتمن شوی دي اوهیڅ احتیاج نه لری چي په ا فغا نستا ن کی د سولی د رامینځته کید و په خاطرد مذاکراتو دمیز تر شا کینیني . یعنی هغه یواځنی لاره کوم چي دجګړی د پای موجب کیدای شي .

د (ماشال) له قوله دتریاکو دمینځه وړلو کلی مسله له بده مرغه په حیرانونکي بڼی سره ددونالد ترومپ دافغانستان دپاره په نوی ستراتیژیک پروګرام کي نه ترسترګو کیږی نو په دي لحاظ سره داسی په نظر راځی چي دامریکي د متحده ایالاتولوړ پوړي مسول مقامات د مخدره توکو پرضد مبارزه کي دیو نوی واقیعت په منلو سره هغوی ته د (بی ثبا تي) یو حس را پیداشوی اوهغه داچي دهغوی دهمدی « بی ثبا تی» حس په لرلو سره اوس افغانستان دنړیوال دهیروینو ضرورت تر (85) سلنه تا مینوی اودغه روند لا نه دی سرته رسید لی .

پس دلته یو سوال را پیداکیږي اوهغه داچي امریکا ولی په ډیر بلند پروازانه اویا په ډیر

سرلوړي سره (۹) ملیارده ډالر د مخدره توکو پرضد مبا رزه کي بی له کوم رغنده لاسته راوړني له لاسه ورکوی کوم چي دا سی یوغیر قانونی جا معه په بشپړه توګه دتریاکو دفاسد تجارت په کولو سره رامینځته کوی اودهمدغه مخدره توکو دترافیک پواسطه سره هرشی تحریفوی ترهغه چي دهر ښه اوپه زړه پوري پراګرامونه په سرته رسولو سره بیاهم ناوړی لاسته راوړنو سره مخا مخ کیږي نو د لته په ډاګه بی له کوم شک ا و تردید ویلي شو چي د **دونالد ترومپ** حیرانونکي برنا می له دی نه چي بری ترلاسه کړي دځانګړي ماتي سره مخامخ کیږي .

زه داسی فکر کوم چي په افغانستان کي دغه ناځرګند اونا پا یا نه جګړه دواشنګټن پواسطه سره د مخدره توکو ا نتخاب په دغه تیرو (۱۶) کلونو کی وه یا په بل عبارت دامریکي ا نتخا ب همدغه د تریاکو جګړه وه چي په افغانستان کي لاتراوسه دوام لری .

------------------------------------- په درنا وي «19-11-2017»